Australian Government

# توکمپالنه (نژاد پالنه / ریسیزم) د منلو وړ نده

که تاسو نژادي تبعیض، ځورونه یا کرکه وویني یا یې تجربه کړئ،
مه یې زغمي، خپل غبرګ پورته کړي.

**که تاسو د توکمپالني چلند قرباني یاست**

- که چیرې پر تاسو برید یا له تاوتریخوالي سره مخ یاست، له پولیسو سره اړیکه ونیسئ.
  - په بیړني یا ژوند ته ګواښونکي حالت کي، درې ځلې صفر (000) ته زنګ ووهئ او د پولیسو غوښتنه وکړئ.
  - که تاسو د پولیسو مرستي ته اړتیا ولرئ، مګر کوم عاجل خطر شتون نلري، د پولیسو د مرستي شمیره (131 444) ته زنګ ووهي.
- که چیري تاوتریخوالی پکي دخیل نه وي، او که دا کار خوندي وي، نو تاسو ممکن دی وضعیت ته په خپله اقدام وکړي او د هغه شخص یا د ښکیل خلکو سره خبري پرې وکړي.
- که مستقیم اړیکه وضعیت حل نکړي، یا تاسو د دي کار په کولو د راحتي احساس نه کوئ، تاسو کولی شئ د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون (Australian Human Rights Commission (AHRC)) ته شکایت وکړئ.
  - د AHRC سره د شکایت درج کولو لپاره، www.humanrights.gov.au/complaints ته مراجعه وکړئ یا د AHRC ملي مالوماتو خدماتو ته په 419 656 1300 یا 9888 9284 02 زنګ وکړئ.

**د لیدونکیو (ناظرینو) قوت**

کله چي خلک د توکمپالني شاهد وي او د دي پر وړاندي غبرګ پورته کړي، دا د په نښه شوي شخص سره د ملاتړ احساس ورکوي، او کولی شي چي د توکمپالني شخص په خپل چلند کي غور وکړي. خپل ځان په خطر کي مه اچوي. مګر که چیرې دا کار خوندي وي، غبرګ پورته کړئ او د قرباني شخص سره ودریږئ. حتی یو ساده اشاره کیداي شی پیاوړي وي.

که تاسو د توکمپالني چلند ووینې تاسو کولی شئ:

- غبرګ پورته کړي - او ووایی چي دا توکمپالنه ده، او مرتکب شخص پوه کړی چي دا د منلو وړ نده
- د قرباني ملاتړ وکړئ - د هغه چا سره ودریږئ چي هدف ګرځیدلی وي او له دوی څخه وپوښتئ چي ایا دوی ښه دي
- شواهد واخلئ - پیښه په خپل تلیفون کي ثبت کړئ، د مرتکب عکس واخلئ او چارواکو ته یې راپور ورکړئ

د استرالیا د بشري حقوقو کمیسیون د لیدونکیو لپاره لارښووني لري، د
https://itstopswithme.humanrights.gov.au/respond-racism څخه لیدنه وکړي

**نژادي تبعیض او ستاسو حقوق**

په استرالیا کي دا د قانون خلاف دي چي د یو شخص یا ډلي د ګروپ، رنګ، قومي یا توکمي اصل پراساس په عام ځاي کي یو څه وکړي چي احتمال د **سپکاوي**، **توهین**، **شرمول یا ویرول** ولري. دا ډول چلند د توکمیز نفرت په توګه طبقه بندي کیږي.

د توکمیز کرکي مثال کي شامل دي:

- په انټرنټ کي توکمیز توهینونکي مواد، په شمول د ایفورومز، بلاګونه، د ټولنیزي شبکي سایټونه او ویډیو شریکولو سایټونه
- په ورځپانه، مجله یا نورو خپرونو کي د توکمیز توهین کونکي نظرونه یا عکسونه لکه په بروشر یا کتابګی کي
- په عامه جلسه کي توکمیز توهینونکي ویناوي
- په عامه ځای کي توکمیز ناوړه تبلیغات، لکه په دوکان، د کار ځای، پارک، عامه ترانسپورت یا ښوونځي کي
- د سپورت په لوبو کي د لوبغاړو، نندارچیانو، مربیانو یا چارواکو لخوا توکمیز ناوړه تبلیغات.

قانون موخه لري چي په آزاده توګه د خبرو کولو حق ("د بيان آزادي") او د توکميز نفرت ښخه پاک ژوند کولو حق ترمينځ توازن رامينځته کړي. ځيني کړني ممکن د قانون خلاف نه وي که دوی "په منطقي او ښه باور سره" ترسره شي.

نژادي تبعيض هغه وخت پيښيږي کله چي يو شخص د بل وګړي په پرتله په ورته حالت کي ورسره لږ مناسب چلند وشي ځکه چي د هغوی نسل، رنګ، نژاد، ملي يا توکميز اصل يا د کډوال حيثيت، لکه يو کس ته د کور کرايه ورکول ردوي ځکه چي دا د يو ځانګړي توکميز شالید يا د پوستکی رنګ ښخه دي.

نژادي تبعيض داسي هم پيښيږي کله چي يوه قاعده يا پاليسي شتون ولري چي د هرچا لپاره يو شان وي مګر د يو ځانګړي نسل، رنګ، نژاد، ملي يا توکميز نسل يا د کډوالی حيثيت په خلکو غير عادلانه اغيزه لري، لکه د شرکت په وينا چي کارمندان يي بايد د کار په ځای کي خولی يا د سر پوښاک په سر نه کړي، کوم چي احتمال لري د ځيني توکميز يا توکميزو شالید لرونکو خلکو باندي غير عادلانه اغيزه ولري.

که تاسو توکميز تبعيض يا نفرت تجربه کړئ نو تاسو کولی شئ د استراليا د بشري حقوقو کميسيون ته شکايت وکړئ. د شکايت پروسه ساده ، وړيا او انعطاف پذيره ده.

د استراليا د بشري حقوقو کميسيون سره شکايت ثبتولو لپاره www.humanrights.gov.au/complaints ته مراجعه وکړئ.

**ملي مالوماتي خدمت**

د استراليا د بشري حقوقو کميسيون ملي مالوماتو خدمت (National Information Service (NIS)) د افرادو، سازمانونو او کار ګمارونکو لپاره د بشري حقوقو او تبعيض مسئلو په اړه معلومات او معرفي کول چمتو کوي. دا خدمت وړيا او محرم دی.

NIS کولی شي:

- تاسو ته د فدرالي بشري حقوقو او تبعيض ضد قانون لاندي ستاسو د حقوقو او مسؤليتونو په اړه معلومات درکړي
- خبري کوي چي تاسو ممکن دي کميسيون ته شکايت وکړي يا دا چي قانون ستاسو په وضعيت کي څنګه پلي کيدی شي
- تاسو ته د شکايت کولو د څرنګوالي په اړه معلومات درکوي، شکايت ته ځواب ووايی يا د يوه مشخص تبعيضي مسئله سره معامله وکړي
- تاسو بل سازمان ته معرفي کوئ چي ممکن ستاسو سره مرسته وکړي

لطفاً په ياد ولرئ چي NIS د قانوني مشوري چمتو کولو توان نلري.

تاسو کولی شئ د NIS سره له دي لاري اړيکه ونيسئ:

- تيلفون: 419 656 1300 يا 9888 9284 02
- بريښناليک: infoservice@humanrights.gov.au
- فکس: 9611 9284 02
- د ريلي ملی خدمت: 727 555 1300 (خبري وکړي او واوري) يا internet-relay.nrscall.gov.au

**د ژباړی او ترجمي خدمت**

د ژباړني او ترجمه کولو خدمت (TIS National) د هغه خلکو لپاره چي په انګليسي خبري نه کوي د ژباړني خدمت دی. د TIS ملي خدمتونو اکثر کارونه غير انګليسي ژبو ته وړيا دي.

- تيلفون: 450 131
- ليدنه وکړي: www.tisnational.gov.au

**مشوره ورکول او د رواني روغتيا هوسايينه**

يو نوی 7/24 ملاتړ خدمت په ځانګړي ډول د COVID-19 وبا له په موده کي د خلکو سره د مرستي لپاره ډيزاين شوی او ټولو آسترالیایانو ته وړيا چمتو دی.

دا ملاتړي خدمت ته د https://coronavirus.beyondblue.org.au/ له لاري ورته لاسرسی لرلي شي.

د شخصي بحران او رواني روغتيا ملاتړ خدماتو لپاره تاسو کولی شئ په هر وخت کي Beyond Blue ته په 348 512 1800 يا Lifeline ته په 14 11 13 سره اړيکه ونيسئ.

د ماشومانو د مرستي کرښه (Kids Helpline) د 5 ښخه تر 25 کلونو عمر لرونکو ځوانانو لپاره وړيا خدمت دی. کوچنيان، ځوانان او تنکي ځوانان کولی شي هر وخت په 800 551 1800 زنګ ووهي.